**بسم الله الرحمن الرحیم**

# د راجح (قوي نظر) او مرجوح (ضعیف نظر)تر منځ شرعي قواعد

**محمد ابراهیم ته:**

**(ژباړه)**

**پوښتنه:**

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

زموږ محترم ورور او قدرمن عالم صاحب، هیله ده چې لاندې پوښتنې ته ځواب راکړئ:

د ځلورو جمهورو مذاهبو علماوو ته د دې قول نسبت کول، چې په معاملاتو کې اصل روا والی او اباحت دی، دقت او تحقیق ته اړتیا لري...

دغه اصل د متاخرینو (وروستیو علماوو) له لورې ډېر را نقل شوی دی، خو متقدمینو ته په نسبت شوو کتابونو کې موږ دغه اصل نه شو موندلای. ابن نجیم الحنفي چې د حنفي فقهې یو بنسټګر دی (ویل کېږي چې دغه قاعده د دوی له لورې خپره شوې ده) یوازې دوې قاعدې ذکر کړې دي:

اصل په اشیاوو کې اباحت دی، تر هغه چې د حرمت په اړه یې دلیل نه وي راغلی.

په جنسي اړیکو کې اصل حرمت دی.

پوښتنه داسې ده: کله چې شارع د جنسي اړیکو د خوندیتابه په موخه د دې اړیکي اصلي حکم حرمت ګرځوي تر څو د نسل ساتنه پرې وشي!! نو ایا دغه ساتنه په مالونو او مالي معماالاتو کې ښه د تطبیق وړ نه ده او یا لږ تر لږه داسې وویل شي چې د مالونو او معاملاتو په اړه اصل اباحت نه دی...

نو له همدې کبله اړینه ده چې د معاملاتو مسایل ښه وڅېړل شي تر څو حکم پرې وشي. ځکه لکه څرنګه چې شارع د نسل ساتنې ته توجه کړې همدغه شان یې د مالونو ساتنې ته هم پاملرنه کړې ده.

ښایي زه تېر وتلی یم، ځکه ما د دې موضوع په اړه د علماوو او اصولینو ټول اقوال نه دي مطالعه کړي...

په دې کې خطر دا دی چې موږ دې اصل ته په کتو چې وايي: «په معاملاتو کې اصل روا والی دی» هر ډول معاصرو معاملاتو ته اجازه ورکوو، پرته له دې چې د واقعيت په اړه يې مطالعه وکړو او د موضوع په اړه راغلی دليل وګورو.

نو د دې قاعدې صحت څنګه دی؟ او ايا فقهاوو په دې اړه څه ويلي دي؟

را لېږونکی: ابو زکريا، له لبنان څخه

**ځواب:**

وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته

وروره، مجتهدينو ځينې قواعد تبني کړي چې زموږ په نزد هغه مرجوح (ضعيفه) دي، چې يوه يې همدغه قاعده ده چې تا ياده کړې: «په معاملاتو کې اصل روا والی دی» هغه څه چې موږ د قوي دليل پر اساس تبني کړي هغه دا دي چې «اصل په اشياوو کې اباحت دی، تر هغو چې د حرمت په اړه يې دليل نه وي راغلی» او بله قاعده دا ده چې «د اعمالو په اړه اصل د شرعي حکم په واسطه مقيد شوی دی». موږ د نورو قواعدو په اړه خبره کړې او ضعف مو يې روښانه کړی چې تفصيل يې دا دی:

لومړی: د اسلامي شخصيې دريم ټوک د «**لاحکم قبل ورود الشرع**» په څپرکې کې راغلي:

[دا بايد ونه ويل شي چې په شيانو او کړنو کې اصل حرمت (تحريم) دی، په دې دليل چې دا د الله سبحانه تعالی په ملک کې د الله سبحانه تعالی له اجازې پرته تصرف دی، نو ځکه حرام دی او قياس يې هم پر مخلوقاتو کېږي؛ ځکه په دې اړه صريح ايت شته چې الله سبحانه وتعالی تر هغو عذاب نه نازلوي تر څو چې يو رسول يې نه وي رالېږلی، تر هغو يو څوک نه را نيسي تر څو چې حکم يې نه وي بيان کړی چې دا حلال دی که حرام. له دې څخه ها خوا مخلوقات ضرر ويني، خو د الله سبحانه تعالی شان ده ته د ضرر او ګټې رسېدلو څخه لوړ دی يعني نه څوک ګټه ور رسولای شي او نه ضرر.

همدا رنګه دا هم بايد ونه ويل چې اصل په افعالو او شيانو کې اباحت دی، ځکه اباحت داسې ګټه اخيستنه ده چې له هر ډول مفسدو او مضرو علايمو څخه خالي ده، ځکه خو مباح ده. نو بايد داسې ونه ويل شي، ځکه د ايت کريمه مفهوم دا دی چې انسان په هر هغه څه مکلف دی چې رسول د الله له لوري راوړي وي او دی له دې څخه په سرغړونه سزا ويني، له همدې امله اصل د رسول پيروي (اتباع) او د هغه د رسالت د احکامو عملي

کول دي؛ اصل اباحت او عدم مکلفیت نه دی. او بل دا چې په عمومي ډول ایتونه پر دې دلالت کوي چې شریعت ته باید رجوع وشي، الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ**

ژباړه: *په کوم څه کې چې تاسو اختلاف ولرئ، نو د هغه په اړه د حکم صلاحیت له الله سره دی.* (الشورى:۱۰)

همدا ډول الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ**

ژباړه: *که ستاسو تر منځ په کومه چاره کې شخړه پېښه شي، نو هغه الله او رسول ته وراندې کړئ.* (النسا:۵۹)

په بل ځای کې فرمايي:

**وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَاناً لِّكُلِّ شَيْءٍ**

ژباړه: *موږ دغه کتاب پر تا نازل کړی دی، چې په ډاګه د هر شي څرګندوونکی دی.* (النمل:۸۹)

همدارنګه د دارقطني د یوه روایت له مخې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: «كُلُّ أَمْرٍ لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ» ژباړه: *«پر کوم شي چې موږ امر نه وي کړی هغه رد دی».* دا پر دې دلالت کوي چې اصل د شریعت اتباع ده او په شریعت سره د یوې کړنې مقید کېدل دي. کومه ګټه چې له فساد او مالک ته له ضرر څخه خالي وي، د دې ګټې د اباحت دلیل نه شي جوړېدای.

همدا رنګه داسې قول هم سهي نه دی چې وویل شي: د شیانو اصل توقف او د حکم ځنډول دي.  توقف دا مانا لري چې یو کار وځنډېدیږي او یا یو حکم وځنډېدیږي چې دا کار هم روا نه دی، ځکه کله چې کوم شی په قران او حدیث کې ثابت وي د نه پوهېدو په صورت کې یې باید پوښتنه وشي، نه دا چې حکم وځنډول شي.  الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**فَاسْأَلُواْ أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لاَ تَعْلَمُونَ**

ژباړه:*که چېرې تاسې نه پوهېږئ، د پوهې له خاوندانو څخه پوښتنه وکړئ.* (الانبیا:۷)

رسول الله صلی الله علیه وسلم د تیمم په حدیث کې چې ابو داود له جابر رضی الله عنه څخه روایت کړی دی فرمايي: أَلاَ سَأَلُوا إِذْ لَمْ يَعْلَمُوا فَإِنَّمَا شِفَاءُ الْعِيِّ السُّؤَال ژباړه: *«خبردار، څوک چې نه پوهېږي، پوښتنه دي وکړي، ځکه د ناپوهې درمل پوښتنه ده».* دا هم په دې دلالت کوي چې توقف او د حکم ځنډول اصل نه دی.

له همدې امله، د رسول الله صلی الله علیه وسلم له بعثت وروسته حکم په شرع پورې اړه پیدا کړه او د شریعت له راتګ څخه وړاندې کوم حکم نشته، نو حکم د شرعې په راتګ پورې اړه لري. ځکه چې د یوې موضوع په اړه شرعي دلیل شته دی. ځکه خو له دلیل پرته هیڅ حکم نه شي کېدای، داسې لکه د شرعې له راتګ وروسته هیڅ حکم نه شي ورکول کېدای. اصل دا شو چې د حکم په اړه به په شریعت کې پلټنه کېږي. داسې چې د شرعي حکم لپاره به په شریعت کې شرعي دلیل لټول کېږي...

ځکه خو پر دې شرعي قاعدې تاکید کېږي: «الأصل في أفعال الإنسان التقيد بحكم الله» ژباړه: *«اصل د انسان په افعالو کې د الله سبحانه تعالی په حکم پورې مقید کېدل دي.»* نو یوه مسلمان ته دا نه ده روا چې د الله سبحانه تعالی د حکم له پېژندنې پرته کوم کار وکړي. رواوالی (اباحت) له شرعي احکامو څخه یو حکم دی او خامخا باید له شریعت څخه یو دلیل ولري.

دا و د افعالو په اړه. د شیانو په اړه چې له افعالو سره اړیکه لري «اصل په شیانو کې اباحت دی تر څو چې د تحریم یا حراموالي په اړه یې دلیل نه وي موجود.» ځکه نو اصل په شي کې اباحت دی؛ تر هغو نه شي تحرېمدای چې د حرمت په اړه یې شرعي دلیل نه وي راغلی. دا ځکه چې شرعي نصوصو ټول مباح شیان واضح کړي دي. دا نصوص عام دي او ټول شیان په ځان کې را نغاړي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِي الْأَرْضِ**

ژباړه: *ایا ته نه وینې چې الله سبحانه تعالی ټول هغه څه ستاسې لپاره تابع کړي دي، چې په ځمکه کې دي* (الحج:٦٥)

د تسخیر معنی دا ده چې هر څه چې په ځمکه کې شتون لري مباح دي. همدارنګه الله سبحانه تعالی فرمايي:

**يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُواْ مِمَّا فِي الأَرْضِ حَلاَلاً طَيِّباً**

ژباړه: *«اې خلکو! په ځمکه کښې چې کوم حلال او پاک شیان دي هغه وخورئ.»* (البقرة:١٦٨)

او په بل ځای کې فرمايي:

**يَا بَنِي آدَمَ خُذُوا زِينَتَكُمْ عِندَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا**

ژباړه: *اې د ادم اولاده! هر مسجد (عبادت) ته ورډانګې کېدو په وخت کې ځان ښکلی کړئ، وخورئ او وڅښئ...*
بل ځای فرمايي:

**هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولاً فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِن رِّزْقِهِ**

ژباړه: *هغه ذات چې ستاسو لپاره يې ځمکه پسته، هواره او تابع کړې ده، د هغې پر سينه باندې ګرځئ او د خدای روزي خورئ.* (الملک:۱۵)

نو دغه ټول ايتونه، شيان په عموم کې روا ګڼي، د دوی عموميت د ټولو شيانو روا والي په ډاګه کوي. له همدې امله که يو شی حرام شوی وي بايد په اړه يې يو نص وي چې له عمومي شيانو څخه يې ځانګړي کړي او وښيي چې دا شی له نورو ټولو هغو شيانو څخه جلا دی چې روا بلل شوي دي. له دې ځايه معلومېږي چې په شيانو کې اصل اباحت دی. له همدې امله کله چې شيان حرام ګرځي موږ يې په اړه نص موندلای شو. د دې شيانو په اړه ځانګړي نصوص راغلي وي چې د شيانو په اړه يې د عمومي نصوصو څخه ځانګړي کوي لکه الله سبحانه تعالی چې فرمايي:

**حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالْدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ**

ژباړه: *پر تاسې حرام کړای شوي دي: مرداره وينه او د خوګ غوښه* (المايده:۳)

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: حُرِّمَتِ الْخَمْرَةُ لِعَيْنِهَا ژباړه: د *شرابو نفس يا ذات حرام دی.*

دا حديث په المبسوط کې له ابن عباس څخه په روايت راغلی دی. دا چې نص يې حرام ګڼي نو دا له عمومي نصوصو څخه يو استثنا ده او له دغه اصل څخه چې اباحت دی ځانګړی دی...]

له دې څخه دا معلومېږي، هغه قواعد چې تا اشاره ورته کړې (د معاملاتو په اړه اصل روا والی دی) او يا دې ته ورته هغه قواعد چې ذکر شول زموږ له نظره کمزوري (مرجوح) قواعد دي. او حق نظر هغه دی چې د افعالو او اشياوو په اړه موږ ذکر کړ لکه: «اصل په افعالو کې د شريعت په حکم پورې التزام دی» او بل دا چې «اصل په اشياوو کې اباحت دی، تر څو چې د حرمت په اړه يې واضح نص نه وي راغلی».

زه هيله لرم چې همدا ځواب به کفايت وکړي او الله سحانه تعالی تر ټولو عالم او حکيم ذات دی.

ستاسې ورور،

عطاءبن خليل ابوالرشته.

٢٩/ جمادي الاخر/ ١۴۴١هـ . ق

23/02/2020 م

ژباړن: سلطان وليد